# ماشومانو مقدس کتاب
## وړاندې کونکے



# جماعت ګرانو حالاتو ته مخامخ کیږی

لیکونکے: Edward Hughes

خیال: Janie Forest
Alastair Paterson

خوښونکے: Ruth Klassen

ترجمه کونکے: Aim4Faith Ministries

مددګار: Bible for Children
www.M1914.org

©2024 Bible for Children, Inc.
تاسو دا قیصئ نقل کولے شئ یا چاپ کولے شئ خو دا خرڅولے نۀ شئ.

د خدایٔ د زویٔ عیسی مسیح د مړو نه د بیا راژوندي کېدو نه پنځوس ورځې پس، پاک روح د هغهٔ په منونکو کښې د پاتېکېدو د پاره راغلو شاګردانو ته پته نهٔ وه چې څنګه خدایٔ پلار، خدایٔ زویٔ (عیسی) او خدایٔ روح القدوس ټول یو دی. چې خدایٔ هغویٔ سره نو خوشحاله شی. خدایٔ د رسولانو مدد د پاره عجیبه کار وکړو. چې هغویٔ د عیسی په باره کښې نورو خلقو ته ووائی.



کومو خلقو چې په عیسی ایمان راوړلو، نو هغوئ خپل هر څۀ یو بل سره شریکول او د غریبانانو خیال یې ساتلو. خو حنناه او سفیره بدنیت وو. هغوئ څۀ زمکه خرڅۀ کړه. او هسې په دروغه یې داسې ښکاره کړل چې ټولې پیسې یې رسولانو له ورکړې، خوځۀ یې ځان سره پټې وساتلې.





پطرس حننیاه نه تپوس وکړو ولې
شیطان ستا په زړهٔ کښې دا خبره
اچولې ده چې تهٔ روح القدوس ته
دروغ ووایه؟ تا انسانانو ته نه بلکې
خدائ ته دروغ وئیلی دی حننیاه
راپرېوتو او هم هلته مړ شو. ځوانانو
هغه اوچت کړو او بهر
یوړو او ښخ یې کړو.

لږ ساعت پس سفیره دننه راغله، ورته پته نهٔ وه چې خاوند
یې مړ شوے دے هغې هم د پېسو د پاره دروغ ووئیل او
هغې سره هم هم هغه شان وشول، او چا چې دا خبرې
اورېدې نو په هغوئ باندې ویره راغله.



خدایٔ روح القدوس
د رسولانو په ذریعه
لویٔ لویٔ نښې او
کارونه وکړل د
مثال په طور چې د
پطرس سورے په
بیمارانو پرېوتو نو
روغ شول.



دا د لویو معجزو
وخت وو او دا د
خدایٔ حضوری
ظاهروی او ډېرو
خلقو په عیسی ایمان
راوړو په دې خبره
مشر امام ډېر غصه



شو. هغه رسولان په
قېد خانه کښې
واچول.



خو د شپې په وخت
کښې د خدائ فرښتې
د قېدخانې دروازه
کولاو کړه او هغوئ
يې بهر راوستل او
ورته يې ووئيل لاړ
شئ د خدائ په کور
کښې ودرېږئ او
د دې ژوند ټول
خبرې خلقو ته وکړئ.
رسولان بهر لاړل او د عيسی په باره کښې يې تعليم ورکړو
او سحر، د مشر امام سړو وليدل چې قېد خانه خالی وه.

آخر مشر امام رسولان راپیدا کړل او هغوئ ير ډېر ورټل
او وې وهل مونږ درته په سخته وئيلى وو چې په دې نوم به
تعليم نۀ ورکوئ پطرس او نورو رسولانو جواب ورکړو،
مونږ د انسانانو د حکم په ځائ د خدائ حکم منل غوره ګڼو.

مشر امام غصه شو، هغۀ
رسولان قتلول غوښتل،
خو په ځائ د دې
هغوئ له يې سزا
ورکړه او پرې
يې ښودل.



د دومره تکلیفونو په باوجود رسولانو د خدایٔ تابعداری وکړه او د عیسی د تعلیم کار یې جاری وساته.



یوه ورځ استفانوس نومې سړے ګرفتار کړے شو، استفانوس مالک عیسی مسیح سره مینه کوله، پاک روح هغه استعمالولو چې خلقو د عیسی مسیح په باره کښې ووائی څۀ خلقو دروغو ووئیل چې هغۀ د خدائ خلاف خبرې کړی دی.



د هغۀ په عیسی باندې د ایمان راوړلو په وجه خلقو د دروغو ګواهی ورکړه او استفانوس یې سنګسار کړو.

د هغهٔ د مرګ نه مخکښې استفانوس د پاک روح نه معمور
وی او آسمان طرف ته ګوری او
د خدائ جلال وینی، او عیسی
مسیح د خدائ ښی لاس
ته ولاړ وینی. خلقو
استفانوس سنګسارولو
هغهٔ خدائ پاک له
آواز ورکولو او وې
یې، اے مالک
عیسی مسیح زما
روح قبول کړه.



بیا د عیسی په شان په
سولئ باندې دې زړور
سړی تر مرګه پورې
دعا کوله چې خدائ د
هغۀ قاتلان معاف
کړی.



د استفانوس د مرګ نه پس د تکلیفونو یو بل سفر شروع
شی. ساؤل نومې یو ځوان چا چې د استفانوس د قاتلانو مدد
کړے وو او هر مسیحی به یې لټولو او ګرفتارو به یې. په
هغوئ کښې ډېر خلق د خپلو کورونو نه وتښتېدل او په
یهودیه او سامریه کښې ځائ په
ځائ خوارۀ شول،



صرف رسولان په
یروشلم کښې پاتې شو.

حانکې د هغوئ دشمنانو د هغوئ د وژلو کوشش کولو او چې څوک خوارۀ شوی وو، نو هغوئ هر ځائ ته د عیسی مسیح زیری خوارولو د پاره لاړل، د عیسی منونکی چا هم نۀ شو منې کولے. ځکه چې د خدائ پاک روح په هغوئ کښې اوسېدو او د هغې په ذریعه یې کار کولو.



جماعت ګرانو حالاتو ته مخامخ کيږی

دَ خدایٔ په کلام په مقدس کتاب کښې دا قيصئ

شته دے

اعمال ۵ ـ ۷

"ستا دَ خبرو تشريح نُور بخښی ـ"
زبور 130:119

ختم شو

دا قیصۍ مونږ ته زمونږ د حیرانونکی خدائ په باره کښې ښودنه کوي چې چا مونږ پیدا کړو او چې څوک غواړی چې هغه مونږ وپیژنو.

خدائ پوهیږی چې مونږ ډیر غلط کارونه کړی دی، چې هغې ته هغه ګنا وایې. د ګنا مزدوی مرګ دے خو خدائ مونږ سره ډیره مینه کوې نو ځکه هغۀ خپل یک یو زوئ راولیږلو چې هغه زمونږ د ګناهونو د خاطره سزه وزغمې او په سولۍ خپل ځان قربان کړې.او بیا عیسی د مړو نه ژوندے شو او آسمان ته لاړو. کۀ تۀ په عیسی باندې ایمان راوړې او د هغۀ نه د خپلو ګناهونو بخښنه غواړې نو هغه به تا ته بخښنه وکړې. هغه تا خواته راځی او ستاسو دننه به استوګنه کوی او تۀ به هغه سره د همیشه د پاره ژوندے اوسیږی.

کۀ تۀ په دې ایمان لرې چې دا رښتیا دی نو خدائ ته ووایه.خوږه عیسی زۀ ایمان لرم چې هم تۀ خدائ یې. تا زما د خاطره پیدا شوې او زما د خاطره مړ شوې او اوس تۀ د تل د پاره ژوندے یې. زما په ژوند کښې راشه او زما ګناهونه وبخښه، چې زۀ هم د نن نه ژوندون وموم او د همیشه د پاره تاسره یم. زما مدد وکړه چې زۀ ستا تابعداری وکړم او ستا زوئ یا لور جوړه شم. آمین مقدس کتاب ولولئ او خدائ سره روزانه خبرې وکړئ، یوحنا۳:۱۲